SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې يو ځل خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال دوه ځلوېښتمه گڼه پرله پسې (۳۲۹) چهارشنبه د۱۴۲۱هـ ق کال د ربیع الاول (۱۹) د۱۳۷۹هـ ش کال د چنگاښ دمیاشتې(۱) د ۲۰۰۰ میلادي کال د جون (۲۱)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) دیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د ننگرهار ولایت په مربوطاتو کې :

۵۵۰ هکتاره ځمکه د کوکنارو له بوټو پاکه شوه

د کوکنارو او نېشه ئي توکو له منځه وړلو سره سره بیا هم بهرنۍ مرستی نه دی شوی

د کوکنارو په کرکیله کې د بندیزونو د لگولو او په هیواد کې د کوکنارو د بوټو او د مخدره موادو په له منځه وړلو کې د افغانستان د اسلامي امارت له اغیزمنو اقداماتو سره سره بشري چولنو او نړیوالو سازمانونو په دې برخه کې د افغانستان د اسلامي امارت له کړنو گړو او بزگرانو سره مرسته نده کړې.

د باختر اطلاعاتي آژانس د یوه مسؤل خبرځای له خولې خبر راکړ د عالیقدر امیر المومنین له فرمان سره سم په دې وروستیو وختو کې نږدې پنځه سوه پنځوس هکتاره ځمکه کې د کوکنارو کرل شوي بوټي چې د حاصلاتو د ورکولو په پړاو کې و د ننگرهار ولایت په مربوطاتو کې له منځه یوړل شول. او دغه راز په زرگونو کیلو گرامه مخدره مواد د کورنیو ۴ مخ

شریعت اوونیزي ته د موثقو خبري سرچینو په حواله :

د مخالفینو تر منځ اختلافاتو بیا زور وموند

مسعود له یو شمیر پخوانیو جهادی قوماندانانو څخه ځینی صلاحیتونه اخستی

جنرال عبدالخالق او جنرال عزیز الرحمن د مسعود د نړیو سلاکارانو په توگه ټاکل شویدي

د مسعود نږدی افراد هم د روسی او تاجکی ماهرانو له پوځی روزنی څخه کرکه لری

د مسعود افراد له ستونزو نه د خلاصون په غرض له صحنی نه د وتلو کوښښ کوی

شریعت : پنجشیر ته د بهرنیو روسي او تاجکی پوځي ماهرانو په رسیدو د مخالفینو تر منځ سخت اختلاف را پیدا شوی، شریعت ته د باوري سرچینو په حواله ویل شوي چې دغه پیښه حتی د مسعود د نږدې افرادو د سخت نفرت سبب گرځېدلې. له یلې خوا مسعود په ځینو پخوانیو جهادي قوماندانانو د بې اعتمادۍ له امله له هغوی څخه ځینې مهم صلاحیتونه ۴ مخ

سنگ تهداب دو محراب مسجد در شهر کابل گذاشته شد

سنگ تهداب دو محراب مسجد جامع در مربوطات شهر کابل دیروز گذاشته شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : سنگ تهداب مسجد جامع شریف حضرت شاه نقشبندي «رح» در حصه سوم خیرخانه گذاشته شد . این مسجد به مصرف دو ملیارد افغاني به کمك اهالي منطقه طور پخته و اساسي در یك طبقه در ساحه ۱۵۷۵ متر مربع زمین اعمار میگردد در اعمار مسجد متذکره که در یك وقت گنجایش هفت صد نماز گزار را دارا میباشد تمام ملحقات ضروري در نظر گرفته شده است همچنان سنگ تهداب مسجد جامع حاجي چمن دیروز در منطقه سرك چهل متره حصه سوم خیر خانه گذاشته شد . مسجد متذکره که به صورت پخته و اساسي به مصرف شخصي محترم حاجي چمن خان و اهالي منطقه اعمار میگردد در یك وقت گنجایش بیش از هفتصد نماز گزار را دارا میباشد.

در مراسم تهداب گذاري مساجد ص ۴

یوه زیاته اندازه تقلبی کیمیاوی سره ونیول شوه

د کابل ښار په مربوطاتو کې په دې وروستیو وختو کې شپږ شپېته کڅوړې د یوریا تقلبی سره کشف او عاملین یې نیول شویدي.

د باختر اطلاعاتي آژانس د کرنې او مالداري وزارت د یو مسؤل خبرځای له خولې خبر راکړ د کیمیاوي سرې او د کرنې د خدمتونو د تصدۍ اداري د څېلو کنترولي فعالیتونو په لړ کې په دې وروستیو ۴ مخ

به منظور ایجاد هماهنگي کار میان انجو هاي داخلي و خارجي :

محترم معین وزارت پلان با رئیس موسسه اکبر بحث و تبادل نظر نمود

به منظور ایجاد هماهنگي کار میان انجو هاي داخلي و خارجي و انتظام بهتر فعالیت آنها دیروز محترم معین وزارت پلان با رئیس موسسه اکبر در آن وزارت بحث و تبادل نظر نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : درین دیدار محترم مولوی عزت الله حقاني معین وزارت پلان در رابطه به تسهیلات که از سوي امارت ص ۴

ما از کار التراساوند در سطح شفاخانه ها مطمئن هستیم

دکتوران مرد میتوانند حین ضرورت مریضان زنانه را معاینه کنند

محترم ملا محمد عباس اخند وزیر صحت عامه ا.ا.ا

تشخیص یك کلینیك با کلینیك دیگر مطابقت ندارد

احمد شاه محرم شرعي یکي از خواهران مریض ما

معاینات التراساوند ۲۰-۲۵ ٪ نتیجه مند میباشد

دکتور سید محمد شفیع ، سعادت ، متخصص داخله

یکتعداد کلینیک هاي التراساوند نه داکتر متخصص دارند و نه ماشین الات معیاري

دکتور محمد هاشم وهاج ، متخصص مرکز تدریس التراساوند در کشور

گیریست که دکتوران در تکمیل تشخیص امراض بطني از میتود جدید طبي بنام التراساوند (معاینات تلویزیوني) استفاده میکنند. این میتود در پهلوي اینکه تسهیلات و امکانات خوب براي دکتوران ما فراهم نموده است متوجه یك سلسله مشکلات تخنیکي و کاستي ها نیز بوده، خبرنگار ما طي گزارشي اجمالي فعالیت کلینیك هاي شخصي ، التراساوند را در مرکز کشور ارزیابي نموده است که توجه شما عزیز دوستان را به مطالعه آن ص ۴

یك باب کلینیك صحي در ولسوالي علینگار افتتاح گردید

کلینیك صحي ولسوالي علینگار ولایت لغمان که بطور اساسي و پخته جدیداً اعمار گردیده است دیروز توسط محترم والي آن ولایت افتتاح گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت لغمان خبر داد : ادامه اعمار و باز سازي تاسیسات صحي در کشور کلینیك صحي ولسوالي علینگار ولایت لغمان که در ساحه یك جریب ص ۴

د سرپل په ولایت کې د وچکالۍ ستونزې وڅېړل شوې

د وچکالۍ د ناوړو اغیزو له پلوه د سرپل ولایت د خلکو ستونزې او مشکلات د سروې او څېړنې په حال کې دي.

د باختر اطلاعاتي آژانس د سرپل له ولایت نه خبر راکړ په افغانستان کې روانې وچکالۍ د اوبو د ...رمو په کمښت سربېره د افغانستان د بېلابېلو سیمو د کروندگرو او مالدارانو د حاصلاتو د کمښت په کار کې منفي اغیزې کړیدي. چې له دې پلوه د سر پل ولایت ۴ مخ

تایوان چین ته د سولې وړاندیز وکړ

د تایوان نوي جمهور رئیس پرون د چین د ولسي جمهوریت جمهور رئیس ته پیشنهاد وکړ چې له ده سره خبرې وکړي او د دواړو هیوادونو تر منځ د روغې جوړې او پخلاینې په باب وغږیږي.

د نړیوالو خبري منابعو د خبر له مخې د تایوان جمهور رئیس څرگنده کړه دې باور لري چې د دواړو کوریا گانو د مشرانو په شان چې ۴ مخ

شهریان کابل از آسیب (۲۰۰۰۰) سک ولگرد نجات خواهد یافت

شریعت : هم اکنون بطور مجموعي در کوچه ها و نواحي شهر کابل بیشتر از (۲۰۰۰۰) سك ولگرد تراکم دارد. این مطلب را محترم ملا عیسی محمد رئیس تنظیف و سرسبزي شاروالي کابل به خبرنگار ما اظهار داشته افزود : طبق آمار جدید ریاست تنظیف و سرسبزي شاروالي کابل فعلاً در بین هر ۱۰۰۰ سگ ولگرد حدود ٤٠ سگ دیوانه نفوذ دارد ، در صورتیکه شهر از لوث سگهاي مذبور پاکسازي نگردد این سگها به سگهاي دیوانه مبدل شده و آنگاه اضرار و پیامد هاي سگهاي دیوانه به مراتب زیانبار تر از سگهاي ولگرد خواهد بود.

محترم ملا عیسی محمد اضافه داشت : شاروالي کابل به همین منظور عملیات وسیع پاکسازي کوچه ها و نواحي شهر کابل را از وجود این سگها دیروز آغاز نموده که این عملیات مدت یکماه ادامه خواهد داشت .

وي اظهار داشت : پروگرام پاکسازي ما در دو تایم انجام میپذیرد : از ۵ عصر ص ۴

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د منځنی آسیا د څلورو هیوادونو د اقتصادی غونډی په هکله

دری څلور ورځې مخکې د تاجکستان په مرکز دوشنبه کې د قزاقستان ، قرغیزستان ،ازبکستان او تاجکستان ولس مشران د سیمې د اقتصادی ودې او په دې باره کې د لازمو پلانو د جوړولو لپاره سره جرگه شول او په اړوندو موضوع گانو یې خبرې اترې وکړې . خو دا چې څنگه یې خپلې دغې غونډې ته اقتصادي نوم ورکړ او په حقیقت کې یې هماغه د روسی گټو لپاره لاری جوړول مطلب و ، د پام وړ ټکی دی - د نوموړو هیوادونو مشران دې په ځای چې خپلې اقتصادي ستونزې وڅېړي او د پر مختگ او ودې لپاره یې سلا مشوره وکړي ، د سوداگرۍ لپاره حالات برابر او د شاوخوا گاونډیو هیوادونو سره خپلې اړیکې سمې کړي ، بر ۲ مخ

د لوگر ولایت په مرکز کې د نری رنځ تشخیصیه کلینیک جوړ شو

د لوگر ولایت د عامې روغتیا ریاست په چوکاټ کې په دې وروستیو وختو کې د نرۍ رنځ د ناروغۍ د علاج او درملنې لپاره تشخیصیه کلینیک د دغه ولایت د مرکز پل علم په ښار کې جوړ شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د پل علم په ښار کې د نرۍ رنځ تشخیصیه کلینیک د عامې روغتیا له وزارت سره په تفاهم کې جوړ او په فعالیت یې پیل کړیدي . د لوگر ولایت د عامې روغتیا ریاست د دغه کلینیک د جوړولو په لاره کې اساسي رول لوبولی دی. د یوه مسؤل خبر ۴ مخ

برخورد های تازه در شرق اندونیزیا صورت گرفت

برخورد های تازه مذهبي در جزیره ماله کو واقع در شرق اندونیزیا تلفات سنگین جاني را ببار آورده است .

طبق گزارش های منابع خبری بین المللي یك نطاق اردوی اندونیزیا گفت در زدوو خورد های که دیروز در جزیره ماله کو شعله ور گردید به تعداد یکصدو چهارده نفر جان خود را از دست دادند.

ظرف هجده ماه گذشته بر خورد های زیادی مذهبي در این جزیره روی داده ولی ارقام رسمي نشان میدهد که زدو خورد های دیروزی از همه شدید تر بوده است. نامبرده در مورد اینکه در این زدو خورد ها کدام گروه های مذهبي شامل بودند چیزی نگفت .

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لانده ي

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری

پسټ بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات : ٦۲۸٥۹

جاري حساب : $\frac{٤.٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

عکس د اسلام غوښتني په وړاندې خطر چې دوی یې تروریزم بولي، خبرې وکړي.

د غونډې برخه والو په دې هکله خپلې ژورې اندېښنې څرګندې کړې چې هېوادونه یې د اسلامي خوځښت له جدي خطر سره مخامخ دي او کېدای شي له دې پلوه یې هغه امنیت ګډوډ شي چې د روسي پوځي ټولګیو په زوړ یې راوستلی او ځانونه یې په وچ زور پر خپلو ملتونو ورتپلي دي نو حړنګه چې همدا اوس عملاً روسي قواوې هلته موجودیت لري، په کار ده چې دغه ولس مشران یې په دې ډول روا والي ثابت کړي او ښیي چې سیمه د خورا سختو ګواښونو سره مخامخ ده په دې وروستیو کې دغو هېوادونو ته د روسي مشر پوتین تاوده سفرونه هم ددې لپاره و چې هلته خپلې پښې ټینګې کړي او بیا یې له سره په روسي امپراطورۍ کې سره ونغاړي روسان هڅه کوي چې د خپلو پخوانیو کمونیستو نوکرانو په خوله او غوښتنه هلته خپله واکداري نوره هم پسې اوږده کړي او خلک په دې وویروي چې هله دا خطر دی او هغه خطر دی او په ځانګړې توګه د تروریزم او مخدره موادو د خپرېدو خطر چې لویدیځ والو ته هم ښه ارزښت لري، په دې ډول روسان غواړي چې له یوې خوا د منځنۍ اسیا هېوادونه په موهومې خطرونو وویروي او خپل نفوذ ته لاره هواره کړي او له بلې خوا د غرب طلاتر تر لاسه کړي نو په دې ډول به په یو ځای دواړه هدفونه تر لاسه شي، او له همدې امله یې خپل اندیوالان هم په دې مجبوره کړي چې په هره غونډه کې، که سیاسي وي او یا اقتصادي خو همدا خبره به تکراروي چې ګوري حالات خطرناک دي دغه روسي لوبه سړی ته شل کاله مخکې په افغانستان کې د کمونیستو مشرانو هغه خبرې وریادوي چې هره ورځ به بې ویل: په افغانستان کي د امپریالیزم او توري ارتجاع موجودیت د زیاراېښتونکو لپاره خطر دي او باید روسي سوله ګرې قواوې یې مخه ونیسي، خو په حقیقت کې دا هسې پوچې خبرې وې او روسانو تودو اوبو ته ځان رساوه مګر تر کومه ځایه چې د سیمې په ولسونو پورې اړه لري، دا شان د سیمې بالکل د دوی په محکومیت او اسارت تمامیږي او ورو ورو به یې هست او نیست ټول د روسانو شي، بیا به نو دوی ننداري کوي او روسان به یې په رډه رڼا ورځ طبیعي زیرمې لوټوي او دا دې کمونیست مشران اخته دي همدې لور ته یې کشوي، خو که دغو هېوادو له خلکو او چارواکو سره رښتیا هم د اقتصادي پرمختګ څه فکر سوچ وي نو ښایي چې د ترکمنستان د دریځ او تعامل نه پند واخلي او وګوري چې څنګه یې د افغانستان له لارې د سوداګرۍ او نورو اقتصادي پروګرامونو پرمختګ ته وده ورکړې او پریمانه ګټې یې کړې دي، په داسې حال کې چې نه مخدره مواد ورغلي او نه د تروریزم څه خطر سره مخامخ شوي، هیڅ کومه ستونزه نه ده وړپېښه شوې خو نه پوهیږو په خوا کې یې دا نور جمهوریتونه ولې وارخطا دي او هسې ناري سوري وهي، دوی ته په کار دي چې له افغانانو سره ښې اړیکې وساتي، راشه درشه ولري او په تجارت او نورو اقتصادي چاروکې معاملې ورسره وکړي له افغانستان سره د خپلو بندرونو او سرحداتو بندول به دوی ته څه ګټه ورسوي؟ خطر خو دوی ته همدغې خپلې اسلام ضد پالیسي او په استبدادي ډول حکومت چلولو ورپېښ کړې او هغه هیڅکله هم د افغانستان له پولو نه دي ور اوښتي، بلکې هلته دننه همدا ستونزې جوړې دي او ولسونه خوابدي شوي دي، چې هیڅکله به هم د زور زیاتي له لارې همیشه غلي پاتې نه شي اسلامي امارت تل دوی ته داډ ورکړی چې د نورو په کورنیو مسألو کې لاس وهنه نه کوي او له ټولو سره په ښه ډول ګاونډي توب غواړي او په دې هکله یې پوره تیاری څرګند کړی چې د سوداګرۍ او اقتصادي چارو په برخه کې هر ډول معاملو ته تیار دی، خو په دې شرط چې متقابل احترام او د نه لاس وهنې په اصولو بنا وي.

«طـــالبان، اسلام او په مرکـــزي آســـیا کې نوې لویه لوبه» که د درواغو ګوډۍ

نبی "مصداق" – انګلستان

تر بر سر لیک لاندې احمد رشید نومي یوه پاکستاني کتاب لیکلی چې په لویدیځ کې ډېرې مثبتې تبصرې پرې شوې دي، ځکه چې دا کتاب د یوه متعصب، د اسلام مخالف او د لویدیځ طرفدار لیکوال له خوا لیکل شوی دی لیکوال د کتاب په زیاتو برخو کې د شیعه او سني مذهبونو مخالفت ته لمن وهي، په طالبانو او محمدي شریعت ملنډې وهي او پر امریکا د ګیلې له مخې ګوته نیسي.

هغو کسانو چې د مطبوعاتو له لارې یې د احمد رشید پر کتاب لیکنې کړې او یا یې ورسره مرکې کړې دي د افغانستان او اسلام نه یا پوره خبر نه دي او یا نه غواړي چې ځانونه خبر کړي.

د ساري په توګه دې په کندهار کې د یوه قاتل «عبد الله» په نامه څو مخونه ډکوي، چې څرنګه د هغه خپلوانو د طالبانو له قانون سره سم خپل انتقام ورڅخه واخیست خو نه غواړي چې ووایي د قتل او قاتل په باب اسلام څه وایي ولې احمد رشید او لویدیځ لیکوال د شرعي په تطبیق کې چې په سعودي، سودان، د خمیني په ایران، مالیزیا او نورو هېوادونو کې کیږي څه نه وایي؟ دا ځکه افغانستان داسې طبیعي زیرمې نه لري چې د هغو په درد وخوري او نه هم په اوسني حال کې داسې هېواد شته چې له طالبانو د هغوی له اسلامي امارت او د شرعي له پلي کولو نه په ډاګه ملاتړ وکړي.

د احمد رشید کتاب له تاریخي غلطیو، مبالغو او دروغو نه ډک دی د ساري په ډول، دی لیکي «طالبانو د نجونو ښوونځي وتړل او ښځو ته یې ډېره لږ اجازه ورکوله چې ان له کور نه د سودا اخیستلو لپاره راووځي».

د نجونو ښوونځي د رباني- مسعود د لوړې محکمې په فتوا وتړل شول، په دې فتوا کې چې د لوړې محکمې ټولو په اصطلاح قاضیانو په کې لاسلیک کړی و بل شوي وو چې «د نجونو ښوونځي د فحشا او فسق مرکزونه دي» تر دې مخکې ګلبدین حکمتیار د خپل صدارت په دوره کې ښځې له تلویزیون او دفترونو نه منع کړې د طالبانو په راتګ سره هغوی هغه ښوونځي چې د ټوپکیانو له خوا نه وو رنګ شوي د پخوا په څېر ترلې وساتل خو د سوېدن کمیټې د رپوټ له مخې ان دوه کاله پخوا د طالبانو په سیمو کې ۲۱۰ د نجونو ښوونځي وو، چې له ډېرو سره همدې موسسې مرسته کوله دوی ان په کابل کې هم له اقتصادي او جنګي ستونزمنو شرایطو سره سره د ښځینه ښوونځي درلودل البته دا بسته نه کوي او ښایي چې د ښځمنو لپاره پوهنتون هم پرانیستل شي خو هیڅ خارجي هیواد یا موسسه حاضره نه ده چې بیا دد غه ډول پوهنتون مالي بوج پر ځان ومني له بلې خوا طالبانو تل ویلي دي چې د جنګ په پای ته رسیدو به هلکانو او نجونو ته جلا جلا ښوونځي او پوهنتونونه پرانیزي ځکه د خدای رسول «ص» ویلي دي چې د علم زده کړه په نارینه او ښځینه فرض ده.

د کتاب په اووم مخ کې احمد رشید لیکي مانه یو مجاهد څو کاله پخوا ویلي وو «کله چې الله نړۍ جوړوله، نو څه خس او خاشاک چې پاتې شول او بل چېرې په درد نه خوړل له هغو څخه یې افغانستان جوړ کړ» افغانان خپل هېواد ته ددې دنیا په مخ جنت وایي ان یوه پاکستاني ته دا باید د غربیانو ته هم پوره څرګنده وي چې د افغانستان هوا، اوبه، میوې او د دنګو غرونو منظرې د ډېرو په ذهن کې د اسیا د سویټزرلنډ ځای لري ایا داسې «احمق» افغان که فرضاً د احمد رشید د خوښولو لپاره هم دا خبره کړې وي تکرار ته یې ضرورت شته؟ ایا حقیقت لري؟

احمد رشید د کتاب په ۱۲ مخ کې لیکي «امیر عبدالرحمن له ٤۰ زیات بغاوتونه چې د ناپښتنو له خوا وشول ټول له منځه یووړل» حقیقت دا دی چې امیر عبدالرحمن خان په خپل ۲۱ کلن سلطنت کې لومړی ۱٦ کاله د ۱۸ بغاوتونو په ارامولو تیر کړل، د دې ۱۸ بغاوتونو زیاته او دوامداره برخه د پښتنو د احمد زیو، ساپیو، شینوارو او نورو قومونو له خوا وه، بوازې دوه بغاوتونه د ناپښتنو وو چې د یادونې وړ دی د هزاره ګانو او کافرانو له خوا وو لومړی یې یوه شیعه وله چې د افغان او انګلیس په دویم جنګ کې همدا هزاره ګان له انګریزانو سره یو ځای د نورو افغانانو پرضد ودریدل او دویمه ډله یې له اوو کالو وروسته اسلام ته وبلل شوه او د نورستانیانو نوم یې وګاته.

وراندې د کتاب په ۱۸ مخ کې رشید لیکي «سي ای ای درانې پښتنو ته چې د کندهار په جنوب لویدیځ کې استوګنه لري د غلجیانو په پرتله خورا لږه مرسته د جنګ پر وخت ورکړه».

حقیقت دا دی چې ټولو پښتنو او افغانانو د روسانو په مقابل کې له قومي او مذهبي نظره پرته جهاد وکړ له دې څخه د احمد رشید د غښو پښتني قومونو تر منځ د مخالفت را پارول دي چې داسې دسیسې د ګورګین له وخت نه را په دې خوا نه دي برېالي شوې.

احمد رشید په خپل کتاب کې دعوا کوي چې د ۲۱ کالو را په دې خوا یې د افغانستان پېښې څېړلي دي، خو د کتاب په ۲۱ مخ کې لیکي د «برهان الدین رباني د تاجکانو حکومت په کابل او شاوخوا او د هېواد په شمال ختیځ باندې واک درلود».

ټولو ته ښکاره ده چې رباني یوازې د کابل په څو ناحیو جمهور رئیس و، پاتې د دوستم ګلم جمعانو، د مزاري حزب وحدت، د حکمتیار حزب اسلامي، د سیاف اتحاد اسلامي، د محسني حرکت اسلامي په لاس کې و په همدې ډول پل خمری د اسماعیل کبان زامنو، بغلان، کندز او تخار زیاتره د بیلابیلو ډلو او «جمهور رئیسانو» په واک کې وه.

د طالبانو په اړه په ۳۲ مخ کې لیکي: هغوی د مهاجرت په حال کې په پاکستان کې لوی شوي هلته یې په مدرسو کې زده کړه کړې او د خپل ملک له تاریخ او له روسانو سره له جهاد نه یې خبره دی «حال دا چې بل ځای اعتراف کوي او وایي: ملا محمد عمر په خپله د خالص یو قوماندان او هم د طالبانو نورو مشرانو خپلې پښې او سترګې په جهاد کې له لاسه ورکړې دي.

خود کتاب په یوه برخه کې د خپلو مرکو په باب چې د کندهار والي ملا محمد حسن سره یې کړې خبري کوي او وایي د اسلامي امارت په کابینه کې اته تنه معیوبین دي او زیاتوي چې سړی نه پوهیږي چې د هغو په ګوډ پښو او ړندو سترګو پورې وخاندي او که پرې ورحمیږي.

نو څوک چې په اسلام ایمان ونه لري او په خپله حاضر نه وي چې حتی یوه ورځ هم وربانده د اسلام لپاره ترخه تیره شي نو خامخا به په دې نه پوهیږي چې انسانان د خدای او قرآن د اوامرو اطاعت لپاره څنو دي چې له خپل سر نه هم تیر شي.

د کتاب په وروستي برخه کې لیکي امریکایانو د سعودیانو او پاکستانیانو له لارې له طالبانو سره مرسته کوله، ځکه طالبان حاضر وو چې په هېواد کې مخدره توکي له منځه یوسي او هم له ایران سره مخالف وي دا چې د شریعت نافذول یې غوښتل امریکایان حاضر و لکه چې سعودي ته یې د «ارمکو» د تیلو کمپنۍ له لارې موقع برابر کړه چې د هغه هېواد د تیلو زیرمې په غربیانو خرڅې کړي په همدې ډول د «بریډس» او «یونیکال» د تیلو کمپنیو له لارې یې غوښتل چې طالبانو ته موقع برابره کړي چې د مرکزي اسیا د تیلو او ګازو زیرمې د افغانستان له لارې تیرې کړي خو په امریکا کې د ښځو په مخالفت او طالبانو اسامه بن لادن ته په پناه ورکولو او په دې ترڅ کې له ایران سره د امریکا د اړیکو په ښه کیدو سره امریکایانو او نورو غربیانو طالبانو ته شا وګرځوله.

د احمد رشید کتاب د لویدیزووالو ځکه خوښ شو چې هغوی دده په څېر د پښتو له تفصیل نه معلومات نه لري او ځکه یې ډېري وراندو ویني نیمګړي او غلطي وې خو په عمومي توګه که سړی د پښتو تفصیلات په نظر کې ونه نیسي نو څه خاطره چې لوستونکي ته د کتاب په پای کې تر لاسه کیږي معقوله ښکاري، بیانې امریکایانو په ریښتیني توګه نا خوانی وکړه چې د روس په ماتې سره یې افغانستان د ګاونډیو او د سیمې د هېوادونو د رقابت لپاره پریښود که غربیانو د جنګ د دورې یو پر سلمه برخه مرسته د کمونیست نجیب د حکومت تر نسکوریدو وروسته کړې وای، ښایي دا جنګونه منځته نه وای راغلي او ټولو افغانانو به د جنګ پر ځای د خپل ملک ودانولو ته فکر کړی وای خو دا چې اوس هم په یوه لویه د سیمه کې ایران د افغانستان تاریخي رقیب روس د یو نیم ملیون شهیدانو قاتل هند له پاکستان سره د خپلې دښمنۍ له امله ازبکستان او ترکیه د خپل نژاد دخلکو له امله جنګ ته لمن وهي، امریکا ملل متحد او نوره نړۍ یې ننداره کوي له افغانستان سره په حقیقت کې ددې ملکونو دښمني ده.

د «ګوربت» له مجلې څخه په منته

د اقصی مسجد د شهیدولو منصوبه

محمد الله «نورستاني»

د عیسی علیه السلام د زیږیدنې د ۲۰۰۰ م کال د پوره کیدو ارمانز له ټولو څخه زیات د یهودانو او د هغوی د مذهبي کیسو او روایاتو له مخې دوه زرم کال د القدس تعمیر او د لومړني اسرائیلي ریاست د قیام دری زرمه کالیزه ده د وخت ګردش به خپل عهد پوره کوي او بیا به نوی عهد، شروع کیږي چې په دې کې به په ټوله دنیا باندې د یهودانو اقتدار قائمیږي ددې عهد له شروع څخه مخکې به اسرائیل د اقصی مسجد پر ځای «سلیماني هیکل» تعمیروي دا د یهودیانو یو خواهش نه بلکې په نړۍ کې د فلسطیني یهودیانو په ګډون یو کرور او ٦۰ لکه یهودیان ددې خبرې تر سره کولو لپاره پکار بوخت دي هغوی دې کار لپاره په نړیواله سطحه ټول وسایل پکار اچولي او د همدې مقصد د سرته رسولو پخاطر هر قسم پروپاګند کوي او تر ټولو مهمه خبره دا چې د اقصی د جومات د شهیدولو لپاره له سل ځله څخه زیات کوښښ کوي تر څو چې دغه جومات ونړوي چې ۷۲ حملي پکي د تیر ۲ ٦ کلونو په دوران کې له یاسر عرفات سره «دا وسلو لوظنامې» له لاسلیکولو وروسته تر سره شوي، په نیواکې فلسطین کې پکار بوخت د ۱۲۰ تشدد خوښوونکو تنظیمونو له جملې څخه ۲۵ دهشت ګرد تنظیمونه خاص ددې پخاطر جوړ کړې شوي تر څو چې اقصی جومات شهید او پر ځای یې سلیماني هیکل تعمیر کړي دغو تنظیمونو یوه اتحادیه قایمه کړې چې القدس غورځنګ نومیږي چا چې په نیتین یاهو باندې په ۱۹۹٦ کې د اقصی د جومات لاندې زیر زمیني کیندلو د کار افتتاح وکړه دغه دولتي افتتاح ددې خبرې ښکارندوی دی چې دغه کار یوازې د یو څو دهشت ګردو او متشددو تنظیمونو نه بلکې ټول اسرائیل او یهودیان پدې کې شریک دي، د اقصی د جوماتو لاندې زیرزمیني کیندلو کار له ډېر پخوا څخه شروع دی تر څو چې د اقصی د لاندې ځمکې سطحه باریکه شي چې له معمولي زلزلې حتی د الوتکې د لوړ او هولناک اواز څخه هم جومات ونړیږي او له خاورو سره خاورې شي، ددې زیرزمیني کار تر ډېره حده سرته رسیدلی «حشمو نایم» په نامه ددې تونلونو بنیادي ډېره د نویو الیکترونیکي ماشین الاتو د نقشې په ذریعه اینبودله شوي چې د چا له مخې اقصی مسجد نړول او د هغه پر ځای سلیماني هیکل تعمیر او د اقصی پر ځمکه د یهودي شعار ښکارندوی تعمیر جوړول دي پدې تونل کې اوس هم عین اقصی مسجد لاندې عارضي یهودي عبادت ګاه جوړه کړې شوې چې یهود خپلو خلکو ته تسلي ورکوي «چې فی الحال دغه عبادت ګاه د ځمکې لاندې ده او په نږدې راتلونکی (مستقبل قریب) کې به د ځمکې په سر وي د دوه زرم کال له شروع سره سم پخوانی قبلي ته وړپېښو خطراتو کې هم اضافه والي راغلې ځکه نو یهودي شدت خوښونکي ورځپاڼي باربار خبر ورکوي چې تشدد خوښوونکي یهودیان اقصی نړول غواړي حکومت دوی منع کوي ولې خبره د دوی له وسه وتلې ده د مثاله په توګه صهیوني ورځپاڼه بدبعوت احرنوت په کال ۱۹۹۸ د دسمبر په اوله نیټه لیکي یو لیوني هم یو وخت نه بل وخت مسجد اقصی او ګنبد صخرې نړولای شي ددې خبرې په تفصیل کې ورځپاڼه زیاتوي: د اسرائیلو صدر اعظم نتین یاهو د انصاف وزیر، مالي وزیر، داخله وزیر، د القدس ښاروال، د اسرائیلي استخباراتو شاباک رئیس او د پولیس چارواکو په ګډون په یوې اضطراري غونډه کې ددې خدشې جاج ګیر نه وکړه چې کوم لیوني او جذباتي سړی که دغه کار وکړي هسې نه چې ټوله علاقه د جنګ په اور لمبه ونګرځي یوه بله صهیوني معاریف ورځپاڼه کال ۱۹۹۸ د اګست ۲۹ مه ګڼه کې د دغو دهشت ګردو تنظیمونو په باره کې لیکي: ددې دهشت ګردو تنظیمونو پروګرام نهایت مخفي، پیچلي او د دوی یو تر بله ضبط زیښت زیات مضبوط او مذهبي خیالات یې طوفاني دي تر دې چې د اسرائیلو پټو ایجنسیانو ته هم د هغوی داخلي نظام ته رسیدل مشکل دي. لدې شواهدو څخه صاف دا په ګوته کیږي چې له اسرائیلي حکومت سره د جومات د نه شهادت څه فکر نشته ځکه چې هغوی پخپله دې کار لپاره بر سر کار دي بلکې هغوی سره ددې خبرې سوچ دی چې که کوم تنظیم یا یو شخص پداسې نامناسب وخت کې کاروایي ونکړي چې حکومت ته یکې ستونزې ورپېښې نشي، حقیقت دا دی چې دوی دی

ص ۳

آیا میدانید این



چه معنی میدهد ؟

در سال ۷۷٦ قبل از میلاد فیردوباروکوبرکن وزیر تعلیم و تربیه دولت فرانسه مصمم شد که چگونه میتوان ورزشکاران جهان را با هم متحد ساخت. وي روي این منظور به تمام دول هان پیغام فرستاد تا درین زمینه گرد هم آمده و جلسه، را دایر نمایند. همان بود که در اخیر سال ۷۷٦ ق. م این جلسه در فرانسه دایر گردیدو اشتراك کنندگان جلسه به منظور وحدت و یکپارچگي ورزشکاران جهان کمیته، را بنام کمیته بین المللي المپیك ایجاد نمودند آنها سمبول این کمیته را همین پنج حلقه انتخاب کردند که معني اتحاد و یکپارچگي ورزشکاران را در سطح جهان افاده میکند؛ هکذا این پنج حلقه داراي پنج رنگ : سرخ، زرد، سیاه، ابي و سبز است که نمایندگي از اتحاد ورزشکاران پنج قاره دنیا میکند، مثلاً حلقه سیاه از ورزشکاران افریقا، حلقه زرد از اسیا، سرخ از امریکا، آبی از اروپا و سبز اسماني از ورزشکاران استرالیا نمایندگي میکند .

وضع ورزشکاران مهاجر افغان در پشاور پاکستان

داکتر شاه محمود یکتن از استادان رشته فتبال در کشور وضع ورزشکاران مهاجر افغان را در شهر پشاور پاکستان اینگونه بیان میدارد : همانگونه که جوانان و نوجوانان ورزش دوست ما با وجود هر نوع فقر و محرومیت هاي اجتماعي و عدم تسهیلات وسایل ورزشي باز هم توانسته اند روح ورزش را در کشور زنده نگهداشته و سلامتي و قهرمانئي ملي خویش را در برابر دیگران حفظ نمایند، ورزشکاران مهاجر افغان ما نیز طي سالیان متمادي در دیار هجرت با همین روحیه پرورش یافته که افتخارات و دست آورد هاي برازنده ورزشي آنها بیانگر خوب این مطلب است .

وي میگوید : قرار احصائیه نسبي که در اختیار ما مي باشد هم اکنون بیشتر از یکصدونیم و حدود ۱٥۰ کلپ ورزشي افغانهاي مهاجر در رشته هاي مختلف ورزشي در نقاط مختلف شهر پشاور چون : کمپ خراسان، کمپ شمشتو، ببي و مرکز شهر مصروف فعالیت هاي ورزشي مي باشند.

داکتر شاه محمود اضافه میدارد : یگانه تفاوت که بین ورزشکاران مهاجر و مقیم در کشور دیده میشودو همانا بالا بودن سطح اقتصاد ورزشي یکتعداد ورزشکاران مهاجر ما در پاکستان مي باشد که آنها از امکانات و وسایل عصري ورزشي مستفید میباشند .

وي مي افزاید : با تأسف باید بگویم که در نتیجه جنگ هاي تنظیمي و ذات البیني افغانها ما شاهد فرار مغز هاي ورزشي و ورزشکاران نخبه افغاني در خارج از مرز ها بودیم که اکثریت این ورزشکاران ما از طریق تیم هاي تجارتي کشور هاي خارجي یا قسماً خریداري شده و یا هم این ورزشکاران محیط و شرایط تلخ هجرت را بالاي خویش قبول نموده اند که بطور الگو میتوان از استاد محمد الله فتبالیست موفق افغاني فعلاً عضو فعال یکي از تیم هاي فتبال ایالت لاس انجلس امریکا، داکتر احمد شاه فتبالیست افغاني فعلاً عظو تیم برازنده فتبال هالیند، استاد جبار فتبالیست خوب ما در جرمني، نثار احمد و یونس فتبالیستان شناخته شده افغاني فعلاً در الماتا و مسکو، فرهاد والیبالر تیم ملي کیمته ملي المپیك در لندن ، هارون عضو تیم ملي والیبال فعلاً در جرمني، بصیر عضو تیم ملي والیبال فعلاً در ایران و ... نام برد

مشعل چه معني را افاده میکند ؟

بعد از ختم جنگ دوم جهاني براي اولین بار مسابقات المپیایی در سال (۷۷٦) ق م در یونان برگزار گردید. به احترام ورود ورزشکاران درین مسابقات مشعلي تابان از محل اصلي همراه با ورزشکاران به محل برگزاري مسابقات انتقال گردید که شبیه همین مشعل کنوني بود، بعد از آن انتقال این مشعل در محل برگذاري مسابقات بین المللي حیثیت کلتور و عنعنه ورزشي را بخود گرفت که درخشندگي این مشعل سمبول احترام به ورزشکاران را افاده میکند . امروز بر افراشتن این مشعل در هر مسابقه جهاني بجا آورده میشود.

کامیابي سمبول ملي افغانهاست

افغانها هیچ وقت تحمل باخت را در مقابل حریفان شان ندارند

امروز اکثریت ورزشکاران ما با شکم خالي ورزش میکنند

اینك به سلسله صحبت هاي ورزشي و معرفي ورزشکاران نخبه کشور گفت و شنود را با یکتن از ورزشکاران جوان و فعال رشته والیبال از سر میگیریم، رجامندیم حرف هاي مان چند لحظه، ممد خشنودي خاطر شما ورزش دوستان واقع شود .

این ورزشکار خوش نفس احمد تواب «شرفي» عضو تیم ملي والیبال کشور مي باشد «شرفي» ۲۲ سال دارد و به گفته خودش ٦ سال از این عمر قیمتي اش را فداي والیبال ساخته است. وي تا حال در ۲۸۰ میدان مسابقه داده و در ثلث این مسابقات مقام اول را بدست آورده است.

وقتي از شرفي پرسیده شد که آیا تمرین روزانه شما در شرایط فعلي تهدیدي علیه حصول نفقه فامیل نمي باشد ؟ وي با خونسردي کامل چنین اظهار داشت : البته که صد فیصد تهدید است، مگر یگانه چیزیکه مرا بسوي والیبال مي کشاند گرایش و علاقمندي ام نسبت به ورزش مي باشد . وي افزود : امروز اکثریت ورزشکاران ما با شکم خالي ورزش میکنند.

شرفي در برابر این پرسش که یك ورزشکار خوب در کدام حالت میتواند براي خود چانس کمایي کند، آیا با داشتن وقت و یا با از سرگیري مشق و تمرین بلا درنگ گفت : یقیناً با داشتن وقت، چرا وقت است که زمینه را براي تمرین و ممارست مساعد میسازد و بدون وقت هیچ امري محال نیست، وي اضافه داشت : همانگونه که خون در سرنوشت مریض کوما نقش تعین کننده دارد، وقت هم در سرنوشت یك ورزشکار حکم خون را در بدن دارد.

-آیا در امر رشد و بلند رفتن سطح استعداد ورزشي یك ورزشکار امکانات مادي ورزشکار با ارزش است یا تلاش و پیگیري وي و یا هم نقش کمیته ملي المپیك؟ محترم شرفي بعد از مکس کوتاه جواب داد : واضح است که اولاً تلاش و پیگیري ورزشکار، ثانیاً وضع اقتصادي وي و ثالثاً هم کیمته ملي المپیك .

وي از تسهیلات بهداشتي کمیته ملي المپیك براي ورزشکاران تیم ملي، گفت : عجالتاً از جانب کمیته ملي المپیك براي ورزشکاران تیم ملي صرف عصریه ورزشي در نظر گرفته شده است که ما آنرا غنیمت میدانیم.

وقتي به عنوان اخرین پرسش از محترم شرفي پرسیده شد که اکثراً دیده شده ورزشکاران افغاني حینیکه امتیاز برد یك مسابقه را از دست داده اند بي جهت عصباني شده، حتي اخلاق سپورتي خویش را از دست میدهند، آیا انگیزه این امر را گفته میتوانید ؟

وي در زمینه چنین ابراز داشت : تاریخ گواه است که افغانها در هر میدان برنده بوده اند. حقیقتاً کامیابي و موفقیت سمبول ملي افغانهاست، روي همین امر افغانها هیچ وقت تحمل ناکامي و باخت را در مقابل حریفان شان ندارند و از همین جاست که ورزشکاران ما نیز موقع باخت همه چیز حتي اخلاق سپورتي خویش را از دست میدهند .

با پول اجاره ستدیوم میتوان یکسال ورزشکاران را عصریه داد

شریعت : در رابطه به اجاره عواید مسابقات ورزشي سال ۱٤۲۱ ق ستدیوم ملي ورزشي کابل محترم ملا محمد اسمٰعیل «عاطفي» مسوول مالي و اداري کمیته ملي المپیك به خبرنگار ما اظهار داشت : ریاست عمومي تربیت بدني و سپورت سال روان این قرار داد را در بدل مبلغ یك ملیارد و هفتاد و سه ملیون و چهار صد هزار افغاني الي ختم جنتري ورزشي با محترم حاجي محمد عزیز و شرکا شان نموده است .

وي افزود : این عواید به حساب ٦۰۰۱ واردات ۱.۱.۱ تحویل بانك مرکزي میگردد . ورزشکاران ما باور به این دارند که اگر این پول در اختیار ریاست تربیت بدني و سپورت قرار بگیرد مصرف یکسال عصریه ورزشکاران این کیمته را کفایت میکند.

ورزشکاریکه نیم روز جر کني میکند و نیم روز پهلواني

از طي چند روز بدینسو مسابقات تورنمنت بهاري وسیعاً در ستدیوم ورزشي ریاست تربیت بدني و سپورت کمیته ملي المپیك ادامه دارد .

خبرنگار ما که از جریان مسابقات فاینل پهلواني کلاس نوجوانان دیدن نموده است چنین خبر میدهد : در نتیجه این مسابقات که قبل از ظهر یکشنبه ۱٤۲۱/۳/ در ستدیوم ورزشي کابل راه اندازي گردیده بود محترم عنایت الدین جوان ۱٥ ساله عضو تیم پهلواني کلپ امیري در وزن ٤۲ کیلو گرام مقام اول را بدست اورد.

محترم شرف الدین پدر پهلوان عنایت الدین که خود غرض تماشا مسابقه پسرش به محل تدویر مسابقات تشریف آورده بود به خبرنگار ما اظهار داشت: پسرم در موسسه جرمن اگرو اکشن کارگر روز مزد مي باشد، وي نیم روز جرکني میکند ونیم روز پهلواني.

محترم شرف الدین افزود : امروز پسرم به کار نرفت، شاید هم گرسنه بمانیم و هم غیر حاضر شود، اما من مسابقه اش را کنسل نکردم و افتخار میکنم که پسرم با این همه بیچارگي مقام اول را بدست اورد. وي اضافه داشت : من اصلاً پسرم را براي انجام مسابقات خارجي پهلوان تربیه میکنم تا باشد روزي افغانستان بالاي نامش افتخار کند و نام میهن سرش بلند شود.

فاصله بین کشور ها را فقط با علایق ورزشي میتوان کوتاه ساخت

د اقصی مسجد د شهیدولو ...

کار لپاره پخپله سخت بی تابه دی چی کله به دوی د اقصی د شهادت سانحه سرته ورسوی او خپل دغه زوړ ارمان پوره کړی د اقصی جومات پر ځای سلیمانی هیکل د دوی په نزد څومره اهمیت لری د دوی د چارواکو بن گوریون او بیگن له خولی مطالعه کړی « د اقدس څخه پرته د اسرائیلو اهمیت نشته او د هیکل سلیمانی څخه بغیر د القدس څه اهمیت نشته » د ۱۹۹۸ د دسمبر په ۱۷ مه د القدس په ښار کی دلومړی ځل لپاره په ښکاره توگه د القدس غورځنگ یو کانفرانس جوړ شو چی موضوع یې د هیکل د تعمیر لپاره د ذمه واریانو تقسیم و چی کاملاً حکومتی حمایت ورته حاصل و او یو زیات شمیر اسرائیلی وزیرانو هم ورکی گډون درلوده، د اسرائیلو د ثقافت وزارت معین موشی بیلډ خپل تقریر کی له تشکر او مبارکبادی څخه وروسته وویل : زما له تاسو څخه دا خواهش دی چی په گردو تعلیمی مراحلو کی د ځوانانو په زړونو کی د سلیمانی هیکل مقام او منزل او د یهودی ثقافت د راسخه کولو لپاره هر ممکن کوښښ وکړی سلیمانی هیکل زموږ د زړونو یخوالی او زموږ وجود دی بیا د کانفرانس یو کوربه وویل : امید لرو چی ددی حکومتی همکاری په وجه به د هیکل د تعمیر پکار کی یو نوی روح واچول شی، اسرائیلی حکومت بواځی دا نه چی د دهشت گردی د دی کارونو سرپرستی کوی بلکی ددی کار له کولو څخه وروسته د مسلمانانو لخوا ممکنه او متوقع خطری څخه د اسرائیلی رعیت د ژغورنی لپاره تیاری هم کوی، د اسرائیلو پخوانی لومړی وزیر اسحاق رابین د فلسطین او اسرائیلی ابادیو تر مینځ د یو لوی دیوال (د چین دیوال) د جوړولو حکم ورکړی و ۳٦۰ کیلو میتره اوږد ۹ فت لوړ ددی دیوال مقصد له فلسطینی او غیر فلسطینی مسلمانانو څخه د اسرائیلی رعیت ساتنه ده په ۱۹۹٦ کی پدی پروگرام باندی د عملی کار پیل کیدو لپاره د لوړو اخراجاتو او مصارفو د بر داشت د طاقت د نشتوالی له کبله د کار ځنډونی خبری کیدلی چی پدی وخت کی امریکا له خپل پخوانی عادت سره سم ددی منصوبی د مصارفو ورکولو وعده وکړله په همدی کال ۱۹۹٦ د جمهور رئیس کلنټن اسرائیلو ته د دوری په وخت کی د نوموړو مصارفو لومړنی قسط ۱۰۰ ملیونه ډالره ورکړل او باقی رقم به یې د ضرورت سره سم ورکول شی او مزید پردی امریکا ددی دیوال د الیکترونیکی دروازو تحفظ او د دیوال د پاسه د اوښتو او عبورد مخنیوی په خاطر خصوصی الیکترونیکی نظام او د چاودونکو موادو د معلومولو پخاطر د فوری اطلاع ماشین، شپږ ورځی بی پیلوټه الوتکی ۲٦۰ جنگی هلی کاپټری او په دیوال کی ځای پځای نصب کولو لپاره کامری هم اسرائیلو ته ورکوی د اقصی د شهادت څخه وروسته هم د اسرائیلو شوم اهداف پوره کیږی نه چی گوندی خواو شا اسلامی هیوادونه په تیره بیا عرب شیخان به خوندی پاتی شی بلکی یهودو سره د لوی اسرائیلی حکومت قایمولو پروگرام دی، په صهیونی پارلمان ولسی جرگه او اسرائیلی سکی نوټ باندی لیکلی شوی : ای اسرائیلیه! ستا سرحدات له فرات څخه تر نیله پوری دی چی پدی پروگرام کی بواځی د گنبد صخری خبره نه بلکی گنبد خضری هم شامله ده .

اوس نو!

دا د مسلمانانو فرض دی چی دوی د یهودو د دومره لوړو او شومو اهدافو پرواندی څه کوی ؟

دین نصیحت دی

حدیث شریف

د وزارتونو ، عمومي ریاستونو ، او ټولو امارتي ادارو د چارواکو د پام وړ !

د حضرت محمد «ص» د مبارکې وینا له مخې چې فرمايي :

من لم یهتم بامر ... الحدیث - یعنې څوک چې د مسلمانانو د کارونو اهتمام ونکړي هغه د مسلمانانو له ټولې څخه ندی.

دا چې اداري مسؤلیتونه ، د مسلمانانو ، کارونه او په مجموع کې د هغوی مشرتوب په حقیقت کې یو ډېر درونډ مکلفیت او مسؤلیت دی نو هر مسلمان ته دا لازمه ده خواه که هغه مسؤلیت د وزارت په سطحه وي ، که د ریاست ، که د آمریت او یا هم د مدیریت په سطحه ، باید کماحقه په ښه توګه ادا او تر سره شي. خو د معلوماتو له مخې داسې لیدل کېږي چې ځینې محترم وزیر صاحبان ، رئیس صاحبان او همداسې نور اداري چارواکي په ټاکلي وخت خپلې وظیفې ته نه حاضرېږي ځینې خو لا چې ډېر ناوخته حاضر هم شي بېرته ډېر په تلوار له دفتر څخه وځي او د ډېرو بې وزلو مراجعینو کار همداسې د مسئول صاحب یوې امضا ته معطل پاتې کېږي . حال دا چې محترم مراجعین له ډېرو مصروفیتونو سره سره د هیواد له ډېرو لیرې سیمو څخه دلته راغلي وي او یا غواړي چې د کارونو د سرته رسولو لپاره لیرې سیمو ته سفر وکړي خو بوا ځې د مسؤلینو غیابت یې د کارونو په مخ خنډ ګرځېدلی وي .

له همدې امله ډېر داسې لیدل کېږي چې حتی د یوې امارتي دوسیې اکمال او بشپړوالی نږدې څو میاشتې وخت نیسي. د یوې اسلامي اداري له هیڅ یوه غړي سره داسې کار چې هغه د نورو مسلمانانو د وخت د ضایع کېدو لامل وګرځي ندی مناسب. نو هیله او غوښتنه له ټولو محترمو مسؤلینو څخه دا ده چې د بې وزلو او رنځېدلو هیوادوالو د کارونو او خدمت د سرته رسولو په منظور باید په ټاکل شوي وخت خپلو دندو ته حاضر او هم په ټاکلي وخت له کاره مرخص شي.

همدارنګه د اسلامي امارت د کار او اجتماعي چارو محترم ریاست باید د خپل وظیفوي مسؤلیت له مخې د هغه مکتوب چې د حاضرۍ د تعین په اړه یې ټولو ارګانونو ته صادر کړی جدي تعقیب وکړي . د همدغو خلاو ډکول به له یوې خوا زموږ د مؤمنو هیوادوالو ډېرې ستونزې حل کړي او له بلې خوا به اړوندو مسؤلینو ته د ورسپارل شوي مسؤلیت په ښه انجام سره د لوی خدای «ج» رضا حاصله شي.

والسلام

د مخالفینو تر منځ ...

اخیستي او پر ځای یې ځان ته د وفاداری او اعتماد په غرض د پخوانیو کمونستانو له جملې څخه د جنرال عبدالخالق او جنرال عزیز الرحمن په شمول څو تنه نور د پخواني کمونست رژیم لوړ رتبه چارواکي د خپلو نږدې سلاکارانو په توګه ټاکلي.

له بلې خوا مسعود غواړي چې د خپلو افرادو د موړال قوي ساتلو په غرض د روسي او تاجکي ماهرانو له پوځي روزنې څخه ګټه تر لاسه کړي خو بر عکس د همدغو بهرنیو موجودیت خپله د هغوی تر منځ د اختلافاتو لامل ګرځېدلی او بو شمیر د مسعود نږدې کسانو له مشکلاتو نه د ژغورنې په منظور د تیښتې لاره نیولې چې د افغانستان او تاجکستان په سرحد کې پروني وسله واله نښته هم د دې پېښې یو اساسي لامل ښودل شوی.

محترم معین وزارت پلان ...

اسلامي افغانستان در عرصه فعالیت انجو ها فراهم گردیده صحبت نموده همکاري موسسات متذکره را در توسعه کمك هاي شان بمردم افغانستان آرزو نمود.

در مقابل رئیس موسسه اکبر ضمن ابراز آماده گي در زمینه افزود ما در نظر داریم ورکشاپي را بشمول نمایندگان امارت اسلامي و موسسات ملل متحد دایر نمایيم.

طرفین در جریان ملاقات به ایجاد هماهنگي و انتظام بهتر فعالیت هاي انجو هاي داخلي و خارجي تاکید ورزیدند.

۵۵۰ هکتاره ځمکه ...

او بهرنیو خبریالانو او د بهرنیو ډیپلوماتانو په وړاندې د کندهار په ولایت کې وسوزول شول.

دغه راز د کندهار او د هیلمند په ولایتونو کې په سلګونو هکتاره ځمکه د امارتي چارواکو د هڅو او هاند له امله د کوکنارو له بوټو څخه پاکه شویده .

خبرځای زیاته کړه د کوکنارو په کرکیله کې د بندیزونو د لګولو او د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې د کوکنارو د بوټو او د مخدره موادو د له منځه وړلو په خاطر د افغانستان د اسلامي امارت لخوا له دغو ګټورو او ارزښتناکو اقداماتو سره سره بشري ټولنو او نړیوالو سازمانونو د افغانستان له کروندګرو او بزګرانو سره بشري مرستې ندي کړي .

تایوان چین ته ...

تېره اوونۍ یې له یو بل سره موافقه لیک لاسلیک کړ تایوان او چین هم کولی شي په ورته اقدام لاس پورې کړي. د تایوان جمهور رئیس چې د دغه هیواد په پایتخت تایپي کې د جمهوري ریاست مانۍ ته نږدې د یوې ډلې خبریالانو په وړاندې خبرې کولې وویل : د تایوان او چین د مشرانو تر منځ خبرې باید د مخکنیو شرایطو د اېښودلو له په پام کې نیولو سره تر سره نه شي. د چین دولت پخوا له تایوان سره خپلې ځندېدلې خبرې رد کړې وې او ویلي یې دي چې تایوان د چین د خاورې یوه برخه ده او دولت یې باید په دې موضوع باندې په رسمي ډول پوه شي.

د لوګر ولایت ...

ځای د خبر له مخې مید ایبر موسسه د درملو او د ځینو طبي وسایلو په برابرولو کې له دغه کلینیک سره همکاري کوي. خبر ځای وايي دغه کلینیک نارینه او ښځینه څانګې او لابراتوار لري او هغو ناروغانو ته چې لابراتواري نتیجې یې مثبتې ثابتې شي او نړۍ رنځ تشخیص شي ټول درمل په وړیا ډول ورته ورکول کېږي. په دې کلنیک کې د تکنیشن اور وغتیا پال په ګډون یو شمیر طبي پرسونل په خدمت بوخت دي چې د ناروغانو علاج او درملنې د لوګر ولایت د عامې روغتیا ریاست د ډاکترانو لخوا تر سره کېږي.

یك باب کلینیك صحي ...

و پانزده پسوه زمین بطور پخته و اساسي به همکاري موسسه خیریه ناروي ژن و اهالي منطقه جدیداً اعمار گردیده است دیروز طي محفلي توسط محترم مولوي محمد اسحق اخند زاده والي ولایت لغمان افتتاح و مورد استفاده مریضان و نیازمندان منطقه قرار گرفت .

کلنیك متذکره که در چوکات ریاست صحت عامه ولایت لغمان ایجاد گردیده است داراي بخش هاي مختلف و شش بستر مریضان عاجل بوده که کار اعمار آن در جریان بیش از یك ماه به پایه اکمال رسیده است.

شهریان کابل از ...

الي ۱۰ شب و از ۳ الي ۹ صبح.

در اخیر محترم مسؤول ریاست تنظیف و سرسبزي شاروالي چنین گفت : شاروالي کابل جهت امحاي این سگها ادویه مخصوص پودري بنام ستركنین را في کیلو مبلغ ۳۶ هزار کلدار از خارج از کشور خریداري نموده که این مواد ذریعه پارچه هاي گوشت براي سگهاي مضر در کوچه هاي شهر تکثیر میگردد؛ البته بعد از ختم عملیات روزانه سگهاي از بین رفته توسط وسایط ترانسپورتي موظف از کوچه هاي شهر جمع آوري گردیده و در نقاط تعین شده انتقال و مدفون میگردند .

حقیقتاً هم موجودیت این سگها باعث ملوث شدن محیط زیست ، ایجاد و انتقال مرض مدهش RABIES(سگ دیوانه) در میان سایر حیوانات اهلي و انسانها میگردد افرادیکه از ناحیه سگهاي متذکره مصاب به مرض میشوند تداوي آنها در شرایط کنوني نسبت عدم موجویت واکسین امکان ناپذیر میباشد.

یوه زیاته اندزه تقلبي ...

وخت کې شپږ شپېته کڅوری تقلبي مواد چې : یوریا د کیمیاوي سرې په نامه د صدیقیار لمیټد شرکت لخوا په تګي او برګې سره زموږ په دوو تنو هیوادوالو باندې پلورل شوي وه کشف او د ماهرانو له تائید وروسته چې دغه مواد په کرکیلې کې د استفادې وړ ندي ددغې تصدۍ د موظف هیأت لخوا له منځه یوړول شول.

خبر ځای زیاته کړه ددغه جنایت عاملین هم نیول شوي او نسبتي دوسیه یې په اړونده اورګان کې تر څېړنې لاندې ده خبر ځای وویل کیمیاوي سرې او د کرنې د خدمتونو تصدۍ د هیواد کروندګرو او بزګرانو ته سپارښتنه کوي چې په کرکیلې کې دې له وطني سرې څخه چې عالي کیفیت لري استفاده وکړي.

د سر پل ولایت کې ...

مالداران او کروندګر هم زیانمن شویدي.

ددغه ولایت د خلکو ستونزې پرون د سرپل ولایت مرستیال محترم ملا حیدر علي حیدري په مزار شریف کې د نړۍ د خوراکي موادو د سازمان د دفتر له هیأت سره د کتنې په ترڅ کې طرحه کړې . او دوچکالۍ د ناوړو اغیزو د له منځه وړلو د لارو چارو د څرنګوالي په باب خبرې وشوې.

دغه هیأت په مزار شریف کې د نړۍ د خوراکي موادو د سازمان ددفتر د امر محترم محب علم په مشرۍ پداسې حال کې چې ددغه ولایت د کرنې رئیس محترم ملا حفیظ الله ور سره و د صیاد ولسوالۍ د خلکو د مشکلاتو د سروې او څېړنې په مقصد دغې ولسوالۍ ته روان شو .

ما از کار التراساوند در سطح شفاخانه ها ...

فرامیخوانیم:

التراساوند یا معاینات تلویزیوني یك میتود مدرن تشخیصه و در بعضي حالات یك میتود معالجوي در تکمیل معاینات مریض میباشد. این میتود ۵۰ سال قبل در مکتب طبابت معمول گردید. این ماشین براي اولین بار در سال ۱۹۹۲ میلادي به ابتکار دکتور سید امین هاشمي در افغانستان مورد استفاده قرار گرفت که از آنزمان تا کنون نتایج خوب و مثبت در زمینه بدست امده است.

ماشین التراساوند شایان تسهیلات آتي میباشد : اولاً بي ضرر است، ثانیاً اقتصادي است، ثالثاً آسان و رابعاً هم اینکه واضح به چشم دیده میشود : هکذا فیس معاینه التراساوند در کابل فعلاً ۵۰۰۰۰ افغاني میباشد که این معاینه بدون تفاوت در امریکا ۱۰۰$ ، در عربستان ۳۰۰ ریال معادل ٤.٥ ملیون افغاني ود ر پاکستان ٤۰۰-۱۰۰۰ کلدار تثبیت است. فعلاً تعدادي کمي از شبکه هاي التراساوند در سطح شفاخانه ها و کلینیك هاي شخصي در کشور فعالیت داشته و روزانه هر کلینیك حدود ۵۰-٦۰ مریض را تحت معاینات خویش دارند.

در آغاز محترم ملا محمد عباس اخند وزیر صحت عامه ا.ا.ا نظر خویش را در قبال فعالیت هاي شبکه هاي التراساوند چنین ابراز داشت : وزارت صحت عامه ا.ا.ا در رابطه به ایجاد و فعالیت کلینیك هاي تشخیصیه التراساوند در کشور لایحه و اصول مشخص دارد . آنانیکه میخواهند درین رشته کلینیك ایجاد نمایند ما از طریق ریاست اکمال تخصص وزارت از نزد آنان امتحان اخذ میداریم در صورت موفقیت اجازه کار به آنها داده میشود.

وي افزود : وزارت صحت عامه در سال ۱٤۲۰ هـ ق به اهتمام سازمان صحي جهان مطابق نورم بین المللي دو بار کورس آموزشي التراساوند را در سطح کشور دایر نمود که حدود ٤۰ تن از دکتوران ما اعم از طبقه ذکور و اناث در بخش هاي مختلف این رشته موفقانه تربیه گردیدند.

محترم وزیر صحت عامه ا.ا.ا فعالیت شبکه هاي التراساوند را چنین ارزیابي نمودند : ما از کار و فعالیت التراساوند در سطح شفاخانه ها راضي و مطمئن هستیم.

وي در برابر یك پرسش دیگر اظهار نمود : مطابق اصول و شرایط اسلامي دکتوران مرد میتوانند حین ضرورت مریضان زنانه را معاینه کنند.

به عنوان آخرین پاسخ ایشان افزودند : ما از مشکلاتیکه درین عرصه موجود است انکار نمي کنیم، مگر تلاش داریم تا هرچه زود تر گام هاي اصلاحي در جهت رفع این مشکلات برداریم.

محترم احمدشاه محرم شرعي یکتن از خواهران مریض ما که جهت تکمیل معاینات تلویزیوني به کلینیك تشخیصیه عصمت مراجعه نموده بود نظر خویش را در رابطه به موثریت این میتود چنین اظهار داشت : التراساوند بهترین میتود تشخیصیه مي باشد ، مریض در بدل ۵۰۰۰۰ افغاني از ۵۰۰۰۰ تشویش خلاص میشود، از اینکه این میتود در افغانستان نو میباشد دکتوران ما با این شیوه آشنایي کامل ندارند در نتیجه آنها در تشخیص غلط قرار میگیرند و بجاي اینکه درد اصلي مریض را تشخیص بدهند ده ها مریضي دیگري را براي مریض بیچاره هدیه میدهند.

وي به ادامه سخنان خویش افزود : شما باور کنید که بخاطر تشخیص خواهر مریضم در یك هفته سه مراتب مجبور شدم که در سه کلینیك وي را معاینه تلویزیوني بکنم ؛ مگر با تأسف که هیچ نتیجه هم نگرفتم. بدبختي درینجاست که تشخیص یك کلینیك با کلینیك دیگر مطابقت ندارد.

محترم دکتور عصمت متخصص التراساوند در افغانستان و مسؤول کلینیك التراساوند عصمت ك بهتر است که در مورد نتایج معاینات التراساوند دکتوران متخصص داخله قضاوت بکنند، اما اینقدر یاد آور میشوم که ما تا حال در قسمت نتیجه معاینات خویش مرتکب کدام کیس عمده و یا اشتباه خاص نشده ایم.

محترم دکتور سید ابوالحسن «فواد» متخصص التراساوند کلینیك شینوزداه : ۱-۳٪ اشتباهات در کار التراساوند موجود است؛ مگر بالاتر از این رقم ارتباط میگیرد به پائین بودن سطح دانش علمي و مسلکي داکتر مؤظف .

با تاييد نظر محترم دکتور عصمت خواستم تا دکتوران متخصص داخله در مورد التراساوند قضاوت نمایند: محترم دکتور سید محمد شفیع «سعادت» متخصص داخله (مارکیت مکروریان اول) : در صورتیکه این معاینه بصورت دقیق و بوسیله دکتوران فني و مسلکي که در همین رشته تحصیلات اکادمیك داشته باشند صورت بگیرد براي تشخیص داکتر خیلي ها نافع و رهنمودي میباشد. با تأسف باید گفت معاینات التراساوند که فعلاً از جانب کلینیك هاي شخصي در کابل صورت میگیرد ۲۰-۲۵٪ نتیجه مثبت داشته؛ هکذا در خور یك سلسله کاستي ها نیز ناشي از کم تجربه بودن و یا عدم دانش مسلکي دکتوران مؤظف میباشد که ما از نتیجه چنین معاینات در تشخیص غلط قرار میگیریم.

محترم دکتور محمد نبي «ابویزي» متخصص جهاز هضمي موظف در شفاخانه جمهوریت : تا جائیکه ما از نتایج معاینات مریضان تجارب بدست اورده ایم گفته میتوانیم که تشخیص التراساوند ۱۰-۱۵٪ نتیجه مثبت میدهد . وي افزود : ما این امر را در قبال التراساوند قبول داریم که یك مریض در ٦ کلینیك ٦ قسم تشخیص شده است .

محترم دکتور محمد معروف «سامع» متخصص نسایي و ولادي موظف در شفاخانه رابعه بلخي : معاینات التراساوند در بخش نسایي و ولادي نقش فوق العاده مثبت دارد، مشروط ر اینکه این معاینات توسط دکتوران ورزیده و متخصص صورت بگیرد. یکتعداد دکتورانیکه درین رشته در کابل کار میکنند بسیار ورزیده و مجرب هستند، گرچه گاه گاهي این معاینات ما را در تشخیص غلط قرار داده است . با این همه ما التراساوند را بطور کل مثبت ارزیابي میکنیم.

وي جهت تشخیص دقیق معاینات نسایي و ولادي التراساوند پیشنهاد نمود که اگر بعد از این در هر کلینیك تشخیصیه التراساوند یك یك داکتر نسایي ولادي قسم همکار موظف شود خیلي ها نتیجه مند خواهد بود.

از محترم دکتور محمد نواب «کمال» متخصص کلینیك تشخیصیه عمران پرسیدم : آیا دلیل کم بودن فیصدي نتایج التراساوند را گفته میتوانید ؟ وي در پاسخ چنین اظهار داشت : بلي ! یگانه دلیلیکه باعث ایجاد این امر شده استخدام یکتعداد اشخاص غیر فني و مسلکي درین کلینیك ها مي باشد که تا حال اسناد تحصیلي تخصصي آنها از کمیسیون ارزیابي وزارت صحت عامه پاس نگردیده و بصورت غیر مجاز فعالیت مینمایند.

محترم کمال از تسهیلات التراساوند در قبال تثبیت نوع جنسیت طفل در بطن مادر حامله یاد آور شده گفت : التراساوند توانایي تشخیص جنسیت طفل را بعد از هفته بیستم حمل در داخل رحم مادر حامله دارد که بیشترین مراجعین ما را همین طبقه تشکیل میدهد .

محترم دکتور محمد هاشم «وهاج» متخصص مرکز التراساوند در افغانستان که تحصیلات عالي خویش را درین رشته در ایالات متحده امریکا انجام داده است نظر خویش را در رابطه به کم بودن فیصدي نتایج التراساوند اینگونه ابراز داشت : تشخیص دقیق التراساوند منوط است به متخصص ورزیده و ماشین با نتیجه؛ هکذا نتایج غلط التراساوند ناشي از عدم دانش داکتر و بي کفایتي ماشین غیر معیاري میباشد. دکتوران خارجي درین زمینه ضرب المثلي خوبي دارند : «التراساوند توسط اشخاص زیادي اجرا میشود: اما تعداد کمي آنرا میداند»

وي افزود : وزارت صحت عامه ا.ا.ا به منظور ایجاد یك کلینیك التراساوند این شروط را مقید ساخته است :

۱- شخص ایجاد کننده کلینیك باید از جمله فارغین یکي از انستیتوت هاي التراساوند باشد.

۲- مدت ٦ ماه تحت نظر یك استاد مجرب کار عملي نموده باشد.

۳- امتحانات تحریري، تقریري و عملي خویش را در وزارت صحت عام سپري نماید.

٤- کلینیك مذکور باید بر علاوه دیگر ضروریات ماشیني پروپ -Con vex باشد، مگر با وجود این همه یکتعداد کلینیك هاي التراساوند هم اکنون در سطح کشور فعالیت دارند که متیصف این شروط نیستند، به این معني که نه داکتر متخصص دارند و نه ماشین آلات معیاري .

وي به ادامه سخنان خویش اضافه داشت : انستیتوت وهاج التراساوند یك انستیتوت بین المللي بوده که توسط چند کشور دنیا برسمیت شناخته شده است، این کلینیك از مجهز ترین و پر مصرف ترین کلینیك هاي التراساوند در سطح کشور میباشد که دقیق ترین معاینات را تا حال انجام داده است .

محترم وهاج به عنوان آخرین پاسخ چنین اظهار نمود : من نظر دکتور کمال را مبني بر اینکه یکتعداد اشخاص غیر مسلکي در شبکه هاي التراساوند استخدام شده اند کاملاً تایید میکنم؛ اما سوال من درینجاست که چگونه بدون اخذ امتحان و ارزیابي کمیسیون موظف براي این اشخاص جواز فعالیت داده شده است .

مهربان

سنگ تهداب دو محراب ...

متذکره که محترم ملا سعد الدین سعید شاروال کابل وعده یي از اهالي و مسوولین ادارات امارتي حاضر بودند محترم مولوي محمد مسلم حقاني معین وزارت حج و اوقاف پیرامون فضیلت اعمار مساجد از دیدگاه دین مقدس اسلام مفصلاً صحبت نمود.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press